# د پښتو د پخواني ادب تنقیدي خوا

پخوا به خلکو ادب ته په داسي سترګه کاته، چي ګویا پخپله تش ادب په کار دئ، او بالذات به مقصد او هدف ؤ، ادباء به له جامعې څخه لیري پاته وه، او دوی به یوه داسي ډله ګڼله کېده، چي د عامو خلکو سره به ئې رابطه کمه وه، او په یوه ګوښه کښي به ناست وه، چیرته چي آرام او فراغ ؤ، هغه د دوی ځای ؤ، او د جامعې له غوغا څخه به ئې ځان لیري کاوه.

مګر وروسته وروسته چي هر څوني د ادب لمن ارته سوه، ادباء هم په جامعه ګډ سوه، او ادب یو عالمي او جامع شکل وموند، نو ځکه ادب د خلکو ژبه سوه، او ادباء د خلکو د افکارو ښکاره کوونکي او نمایندګان وګڼل سوه.

د ادب د تکامل او بشپړ توب دوره هم له دغه ځایه شروع سوه، چي ادباء په جامعه کښي داخل سوه، او له عوامو سره محشور سوه، نو ځکه اوس ادب د جامعې د فکر او خلقي تطور او روح ترجمان دئ، که څوک وغواړي چي د یوې ټولني ذهنیت او د دوی د فکر ډول مطالعه کړي، نو د دوی د ادب له لیدلو او اورېدولو څخه ډېره استفاده کوي او دا یوه رڼه هنداره ده، چي تل د جامعې د روح او عقلیت انعکاس پکښي کیږي، او هر څه چي یوې ټولني ته د دوی د ارتقاء یا انحطاط په سیر کښي ورپېښېږي ادب ټول دغه شیان ښکاره کوي، له دې جهته نو هر کله ادب د تاریخ او ثقافت ملګری دئ او د



ټولني له عقلیته سره کلکه اړه او رابطه لري. د ملتو په پخواني ادب کښي ډېر داسي مواد سته چي د دوی له تاریخه سره اړه لري، او هر څه چي په ښکاره او بارز ډول تاریخ نه وي ضبط کړي نو یو مدقق سړی کولای سي چي د دوی د ادب د څېړني او پلټني څخه ډېر وقایع او حوادث معلوم کړي، او هغه د ټولني د ثقافت او عقلیت په تاریخ کښي ولیکي. له هغه وخته چي ادب خپله دایره ډېره ارته کړې ده، او د ملتو په ژوندانه ورګډ سوئ دئ، نو کرینک یعنی تنقید او کره کړني هم په ادب کښي یو مهم موقع پیدا کړئ دئ، او د ادب له هغو ارکانو څخه شمېرل کیږي چي که یو ادب تنقیدي برخه ونه لري نو نیمګړی دئ، او له نورو آدابو سره سیالي نه سي کولای.

دا درې څلور پېړۍ وروسته چي په اروپا کښي د اصلاح او تجدد دوره شروع سوې ده، او ادب د حیات او ټولني په خدمت کښي داخل سوئ دئ او ادباء د جامعو او ټولنو رهنمایان ګڼل سوي دي تنقید هم په ادب کښي دوني مهم ځای نیولی دئ چي اساسي رکن ئې ګڼل کیږي، او د اوسني مدنیت او تهذیب لپاره ئې هم ښکاره خدمتونه کړي دي.

د فرانسې لوی انقلاب ادبي تنقید ته دوني وسعت ورکړ چي نن ورځ د بشر فکري محور پر هغو ستنو باندي څرخي او تر اوسه لا هم روسو او نور نقادان د بشر نه دي هېر، او هغه اساسونه چي پخوانو یونانیانو او سقراط او افلاطون د بشر د ذهن د ارتقاء لپاره ایښي وه، د اروپا د اصلاح او تجدد په دوره کښي هسي وپالل سوه او "ادب" د تنقید له پلوه یو داسي نوی شکل وموند، چي اوس یې د بشر فکري رهنمائي په لاس کښي ده، او هر څوک دا مني چي ادباء د جامعې وېښوونکي او د دوی جارچیان دي، چي هر کله ئې غوږونه ورخلاصوي، او د حیات نوي لاري او نوي مفید اصول ورښئي. دا ټوله د ادب د تنقیدي خوا برکت دئ چي تل مضرات او معایب

خلکو ته په ښکاره ډول ورښئي او دوی د خیر او ښېګني خواته رابولي. په پښتو ادب کښي هم له پخوا عصره دا تنقیدي روح موجود دئ او ځکه چي ادب د ملیت د روح او عقلیت هنداره ده نو سړی ویلای سي چي تنقد په پښتو کښي د ژوندانه عنصري او اساسي ماده ده، او ادباوو هر وخت د پښتنو د روحیاتو او ذهنیاتو په نمایندګي تنقیدي پلو په پښتو ادب کښي ساتلی دئ. که څوک د پښتنو د ادب هغي خواته متوجه سي چي هغه د خلکو مال دئ او شاعر او ویونکی ئې معلوم نه دئ یعنی لنډۍ او سپرۍ بدلي او نور ... نو به دا ورښکاره سي چي په دغه ادب کښي تل د هغه خلکو تقدیر او تعظیم سوئ دئ چي دوی جامعې ته یو ښه کار کړئ وي او هغه څوک غندلي سوي دي چي بې ننګي ئې کړې وي، او یا ئې ملت ته تاوان رسولی وي.

محبوبا د عشق او میني په دنیا کښي تل خپل مین ته د تنقید په نظر ګوري ښه کار ئې ستايي او بد ئې غندي، کوم وخت چي مین د وطن په لار کښي قرباني کوي او سر پر ږدي نو ئې محبوبا دا اقدام د قدر په سترګه ګوري او د خپلو تورو زلفو په تار ئې کفن ګنډي :

جانان مي سر پر وطن کښېښود
په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه

(لنډۍ)

بالعکس : کله چي مین بې ننګی وي او خپله وظیفه نه اداء کوي نو محبوبا پر دمخنۍ ورکړې خوله پښېمانه کیږي، او مین ته داسي پېغور ورکوي :

له سپیني توري نه دي تر پلود
پر بېګی درکړې خوله پښېمانه یمه

دا هغه لوړ د تنقید روح دئ چي د پښتنو په هر فرد کښي وُ او د عشق او میني په دنیا کښي هم ډېر مظاهرلري او د پښتنو ملي ادب په



دغو اشعارو ډک دئ، او دغه رنې هنداري دي چي زموږ د روح تجلیات پکښي ښکاري.

د پښتو بدلي او نور ملي اشعار داسي دي لکه د تاریخ پاڼي او دا ښکاره کوي چي په پخوانو پېړیو کښي چا وطن ته خدمت کړئ وُ او چا ضرر رسولئ وُ؟

شاعر او ادیب د ټولني ژبه ده، لسان العصر دئ، ډېر خلک ستايي. او ډېر غندي، د دې تنقید او کره کړني په وخت کښي ننګیالي ستایل کیږي او د دوی په مدح کښي سندري جوړیږي مګر بې ننګان غندل کیږي، او د دوی مضر اعمال تر تنقید لاندي راځي.

هغه بدلي چي پښتانه ئې په کلیو او مېرو او غرو کښي تر اوسه لولي، که په غور مطالعه سي اکثري ئې ستاینې یا غندني دي یوه حصه چي له دغو بدلو یوه فرانسوي مستشرق ډار مستتر ټولي کړي او (د پښتونخواهار وبار) په نامه ئې چاپ کړي دي که وکتلي سي، دغه مطلب ښه ځیني ښکاري. د پښتو په مدونو اشعارو کښي هم دا روح ښه لیدل کیږي تقریباً زر کاله دمخه چي د پښتنو لودي کورنۍ په ملتان کښي پاچهي کړله او دشېخ حمید لودي زوی (نصر) بې لاري سو، نو شېخ رضي لودي د ده د اکا زوی هسي پر ده تنقید کاوه :

د الحاد پر لور دي ترپلل
ګروه دي زموږ وکوراوه
موږ روڼلي په زیارنه
تا په تورو توراوه
لودي ستا په نامه سپک سو
که هر خونه دراناوه

د دې تنقید په ځواب کښي نصر په آزاده ژبه له ځانه دفاع وکړه او هسي اشعار ئې ناقد ته راولېږل :

د الحاد په تور تورن سوم
زه لرغون خو ملحد نه یم

زما دېښنه هسي تورا کړي
که ملحد يم د دېښنه يم
له اسلامه نه ترپلمه
د حميد له لوړ کاله يم
د دېښنو ويناوي مغره
زه لودي يمه خو زه يم

(پټه خزانه)

له دې څخه ښکاري چي په پښتو اشعارو کښي آزاد تنقيد بشپړه برخه درلوده، او دا روح په شعر او ادب کښي له پخوانو زمانو څخه خوندي و.

وروسته وروسته چي موږ د ادب او شاعرانو د دېوانو پاڼي اړوو، ګورو : چي دا روح ډېر قوي سوئ دئ او لکه په نامدون ادب کښي چي وه په مدون ادب او عروضي اشعارو کښي هم سته، او مخصوصاً خوشحال خان د دې ميدان شهسوار دئ، او دی هسي نقاد اديب دئ چي تل په ژبه او قلم د سلاح کار کوي، لکه چي په خپله وايي :

زما ژبه نه ده اور ده
ګذارونه د توپک کا

خوشحال خان د نقد او کره کړني په دنيا کښي ډېر مقتدر او غښتلی اديب دئ ډېر کارونه په قلم کوي، چي هغه توره نه سي کولای:

آفرين دي په ويلو سه خوشحاله !
چي د توري رژول کړې په قلم کښي

دی رښتيا وايي او خپل قوم د قلم په څوکه ويښوي، او دوی خپل ځان او تاريخي عظمت ته ملتفت کوي ډېر ترخه ترخه پېغورونه لري، او پښتنو ته وايي : ستاسي اسلاف خو داسي نه وه، لکه چي تاسي ياست :



که رښتيا وايم شېرشاه دا هسي نه وُ
لکه موږ نه يو پيدا له کوهستانه
پښتانه چي بې ننګي کا څوک ئي څه کا
ګورستان لره به درومو له آرمانه

شاعر تل حساس وي او داسي شيانو ته ئي فکر کيږي چي د نورو په نظر نه ورځي په اجتماعي حيات کښي د نقص او کموالی ډېر زوايا ويني او په خپلو اشعارو کښي دلهجې په صراحت بيانوي د خوشحال خان تنقيدي نظر د ټولني پر ټولو افرادو باندي حاوي دئ اکثر اوضاع او د خپلي زمانې رجال او افراد د تنقيد په سترګه ويني او په هسي ډول ئي کره کوي چي هم د ادب او هم د فن تنقيد شهکار ئي ګڼلای سو وګورئ په دې ټوټه کښي په څه پيرايه د خپل عصر اوضاع ښيي :

وخت د اورنګ زېب دئ
د هر چا تسپې په لاس دي
خدای خبر ئي دئ په زړونو
چي ريا که په اخلاص دي

د ده اکثر تنقيدي اشعار خپل قوم او خپل ولس او خپلي کورنۍ ته متوجه دي او غواړي چي پښتانه د آزادۍ په لار کښي خپلو وظايفو ته ملتفت کړي نو ځکه هر کله دوی ته پېغور وکوي او ويښوي ئي چي ولي مو خپل استقلال بايلو، او خپل ملی سلطنت مو له لاسه ورکړ؟

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس وي
........................
پادشاهي د مغل په زرو بايله
د مغل د منصبونو په هوس دي

وګورئ په دې لاندي بيت کښي پر پښتنو په څه پيرايه تنقيد کوي :

اوبښ له باره په خپل کور کښې ورغلی
په اولجه د اوبښ د غاړې د جوس دي

بل ځای وايي :

تيراه مي وليده راغلم تر ســـواته
پښتون مي وليده دا لوی لوی ذاته
عقل همت مي د چا ونه لـــــيده
په بيار ته راغلم ناست يم ملامات

خوشحال خان خو د خپل عصر په سياست کښې داخل سړی ؤ، او د پښتنو د آزادۍ لوی محرک ؤ، نو ځکه د ده په اشعارو کښي تنقيدي برخه زښته ډېره ده، ولي چي د سياست کار تل له انتقاده سره وي، مگر رحمان بابا چي ظاهراً له دنيا ځخه گوښه او منزوی سړی په نظر راځي، او ژوندن ئې هم فقيرانه او قلندرانه دئ، عجبه دا ده چي د ده په اشعارو کښي هم تنقيدي برخه ډېره ده او دا متصوف او منزوی شاعر هم کله کله د خپل عصر اوضاتو ته ملتفت کيږي او په سياست کښي دخل کوي، او هسي وايي :

په نظر د نابيناو جوهـــــــــريانو
خر مهري لال وگوهر درې واړه يو دي
په سبب د ظالمانو حــــــاکمانو
گور او اور او پيښور درې واړه يو دي

دا فيلسوف او دانا اديب او سترگه ور شاعر د زمانې اوضاع او د حکمدارانو يو له بله جگړې په هسي ژبه تنقيد کوي :

شاه عالم اعظم وگوره چې ئې سخا کر
په خونونو واړه ملک د هندوستـــــان
ودارا و اورنگزيب وته حـــــيران يم
چې ئې څه چاري واقع سـولې تر ميان

په پای کښي له دغو اوضاعو ځخه هسي يوه ناقدانه صوفيانه نتيجه اخلي :



مرداري د دې دنيا خو هم دغه ده
ځکه بيرته ځيني گرزي درويشان

رحمان بابا د درويشۍ او تصوف په مسلک کښي هم له عصره ځخه غافل نه دئ، او په لوړ ډول په ناقدانه نظر ورته گوري، او دا هغه د پښتنو د تنقيد او ادبي شجاعت روح دئ چي د تصوف او انزوا په دنيا کښي هم پښتون له دنيا ځخه غافل او بې خبره نه پرېږدي، او په سياست کښې داخلوي.

په پورتني بحث کښي مي د پښتو پخوانو شاعرانو اشعار او د دوی آثار له دغه پلوه وځېړله، تاسي وليده چي ادبي تنقيد او د ادبي شجاعت روح په پخوانو شاعرانو کښي په ځه ډول موجود ؤ؟ دا روح په ورستنيو دورو کښي هم نه ؤ مر، او په نژدې وختو کښي هم موږ ډېر نقاد شاعران لرو.

تقريباً پنځوس کاله دمخه په کندهار کښي يو خورا حساس او نقاد او مصلح اديب تېر سوئ دئ، چي د اوسني عصر او پخوانو تر منځ د ده آثار او اشعار د ربط کړی ده، او دې وېښ او د ملت په درد پوه شاعر خپل عمر د اجتماعي ناوړو اوضاعو په تنقيد کښي تېر کړئ دئ.

دا سړی مرحوم ملا عبدالباقي کاکړ دئ، چي د امير دوست محمد خان په عصر کښي د (۱۲۵۰ هـ) په حدودو په کندهار کښي زوکړئ ؤ، د ده پلار د سردار کهندل خان وزير ؤ، او نوم ئې ملا عبدالرسول اخندزاده ؤ، د دوی کورنۍ د کندهار د ښار يوه علمي کورنۍ وه. ملا عبدالباقي په شعر کښي "افغان" تخلص درلود، په عربي علومو کښي استاد ؤ، د عمر اکثره برخه ئې د ځوانۍ په دوره کښي په سياحت تېره کړې وه، هند او ايران او عربي ممالک ئې گرده ليدلي وه، مکرراً د بيت الله شريف په زيارت مشرف سوئ ؤ.

"افغان" ډېر متقي او پرهېزگار او مدقق سړی ؤ، عمر ئې په امربالمعروف او نهی عن المنکر تېراوه، د کندهار په بازارو او مسجدو

کښې به ګرزېدئ، خلکو ته به ئې د اجتماعي اصلاحاتو لارې ښوولې، او بد بد عادات به ئې تنقيد کول، اجتماعي عيوب به ئې په صريحه لهجه بيانول، او د اسلام د پاک دين پر اساسي، اخلاقي او اجتماعي معيار به ئې وعظونه او نصيحتونه کړل.

"افغان" ليدل چي د ده قوم د اسلام له اوامرو مخالف ځيني بد عادتونه او د جاهليت رواجونه لري، او دغه عادات په اجتماعي نظام کښې دوی کښته توب او انحطاط ته شوه کوي، نو ئې ځکه د ځان لپاره دغه وظيفه ټاکلې وه، چي بايد د بدو او غير مشروعو عاداتو پر خلاف جګړه وکړي. دی د عمر تر سلو کالو پوري تقريباً رسېدلئ وُ، ډېر سپين ږيری او پر ملا کړوپ او ضعيف وُ، مګر همت ئې ځوان وُ، تل ئې تبليغ کاوه، او د عمر تر آخره ئې په دغه کار کښې خپل همت او زيار ونه سپماوه، د ده د عمر آخرني اوقات زما هم په ياد دي، په چهارشنبې (٦) د دلو (۱۳۰۴ ش) په کندهار کښې وفات سو، هم هورې ښخ سو.

"افغان" زاهدانه ژوندون کاوه، په خوګولې وچه ډوډۍ به ئې شپه تېروله، په ظواهرو او کالو پابند نه وُ، اکثراً به لڅې پښې ګرزېدئ، خو همت ئې د قوم په اصلاح مشغول وُ، او لوړ لوړ مطالب ئې درلوده، د ده مطالعات او د ژوندانه فلسفه د امام غزالي رحمه الله عليه پر افکارو بناء وه، د دې مشهور امام کتب او آثار به ئې ډېر لوستله، او استفاده به ئې ځيني کړله.

ده د خپلو اصلاحي افکارو د خپرولو لپاره، په پښتو يو کتاب نظم کړ، چي نوم ئې "تخريب العادات" وُ، په دغه کتاب کښې افغان خپل تنقيدونه او اصلاحي افکار پښتنو ته وړاندي کړل، او دا کتاب د تنقيدي شعر يوه غوره نمونه ده.

تخريب العادات يا تهذيب الواجبات هسي کتاب دئ چي د پښتنو د مختلفو طبقاتو بد عادات په صراحت پکښې بيان سوي، او يو يو تر



تنقيد لاندي راغلي دي، دا کتاب ده د سپين ږيرتوب په دوره کښې د امير عبدالرحمن خان په نامه شروع کړئ او د امير حبيب الله خان په نامه ئې ختم کړئ دئ، د تبليغ لهجه ئې ډېره صافه او سپېڅلې ده د خپل قوم په غم غمجن دئ، د پښتنو پر بې علمۍ اوښکې تويوي، د دوی پر انحطاطويني ژاړي، په رسا آواز دوی ته ناري غلبلې وهي، چي اې قومه ! ويښ سئ ! ځان وپېژنئ.

"افغان" دا ليدله چي زما قوم د عاداتو سخت پابند دئ او دغو عاداتو دوی له کاره ايستلي دي، ډېر مناهي دوی د عادات په نامه کوي، او ځان بربادوي، نو ئې په داسي ژبه دوی ته لار ښوولې ده :

په قيامت به الله وايي سپی دي نه خوړ څه جهت وُ؟
زه به وايم باری ربه ! مناهي د شريعت وُ
د يتيم مال چي دي خوړ يا مال د غصب او تاراج
ستا فتوا له شريعته ؟ که قرآن درکئ رواج؟
څه به وايم خپل الله ته ئې راوښيه پښتو
که مردي د مېړه نه وه. مرد به نه سي په بربتو !
تر مردارو ډېر بد تر دئ څنګې خورم په اشتها
دين مي څه سو راته ګورئ نه مي شرم نه حيا

"افغان" د خپل قوم پر بې علمۍ افسوس کوي :

بې علمي دوني بلا سوه. بل ترې پورته عذاب نسته
په دنيا په آخرت کښې ترې بلنده عقاب نسته
زه افغان چي تور کودی سوم. کل د جهل له ظلمته
سيه روی به رب ته درومم د سوال ئې جواب نسته

"افغان" ويني چي په قوم کښې د امانت او همت روح مړ دئ. ځکه نو دوی بې پته دي، پر خبره ئې څوک اعتماد نه کوي. په معامله

او کار و بار کښې د هر چا په نظر کښې سپک دي، دی پر دې حالت تنقيد کوي، او دوی ته هسې پېغور ورکوي :

د لندن کافران گوره، غوټې خلاصې کړو دالته
تر هغه قرار ښکاره سي، چې ليکلې وي هلته
د عراق ورې غوزې دي، د وربښم په شان پېچلې
په دوچند قيمت خرڅيږي، سپيني پاکي صافي ولې
ستا دوه نيم په يوه شمار سي، پاکېده ئې خرڅي غواړي
د دنيا مهم چې دا سو، حق تعالى دي وله نغاړي
يو دبله ئې نسبت چې د پټان په شان دروهلې
دين دي سپک په نظر ورکئ، داسي مه کوه نتلې
ته بايد چې مقتدا او رهنما ئې هر ملت ته
نمر خاته لوېده رابولې صفوت او شريعت ته
ستا د غش په چپلاخه، د لويانو مخ خوريږي
ځکه مور ته حضرت وايي، چې له ډلې دي ببليږي
سترگي روني که ناکسه. ځانته وگوره بيدار سه
خس دزدي د مېره عيب سوه. له خپل ځانه خبردار سه
خيانت له مسلمانه سره منع دئ په دين کښې
فريبنده او حيله گر سو په انگار آتشين کښې
چا چي غش په مال کښي وکئ، هغه نه دئ زموږ له ډلې
دا حديث د مصطفى سو، چا له نسته چې دا ولې؟
که موچڼه که خپلې سوه، چې په ميان کښې وي خرڅوږي
دغه غش دئ ويوهېږه، په قيامت به کښته گوري
مردانه په ظاهر خړ په باطن سپين لکه هنداره
نه چې دی ببروني صاف وي پوشيده لکه مرداره
چي بل شی په غنم گډ سي، په مېچن سرې واړه کا
خپل او بل په خطاباسي، په زقوم به ئې ماره کا



که چربو په غوړو گډ کا، خسارت ئې د ځان وکي
نن که نه ورمعلوميږي په قيامت ئې آرمان وکي
کوږ په منځ کښې سم پر ځنډه، بېږ والا له قباحت سو
لاندي باندي که يو نه وه لوی محل د خجالت سو

د افغان تنقيدي نظر لکه په ځينو کُلي مسئولو کښې چې دئ، داغسي هم ځيني حياتي مسايل چي زموږ په روزمره ژوندانه کښې داخل دي، د ده سترگه ور اوړي، او تنقيد پر کوي، مثلاً اکثر خلک ممر عامه ته ضرر رسوي، پر لارو باندي ناپاکي او مرداري اچوي، يا د ښار کوڅې او عامي لاري ورانوي.

په دغو شيانو کښي چي د عامو حق دئ، او پر عامو خلکو ئې ساتنه او سمونه لازمه ده افغان ډېر دقت کوي، او د خپل قوم توجه دغه خواته هم راگرزوي، مثلاً د عامو لارو او کوڅو په ساتنه کښي نصيحت کوي او د خلکو پر بي پروايي باندي هم هسي تنقيد کاندي :

سر د دين له کلمې دئ، باب ئې راغله دا خبره
چې آزار له لاري واخله، که اغزی وي که ډبره
د بابا مناقب ډېر دي، د شپې ستوري نښاني وه
تې د سرای آبرو ته گوره چي پر کم طرف جاري وه
کې د ښا اوبه راتلې و داسي ځای ته چي ضرر وځ
د بوده او د سريو پر ښت ببل د ده ممر وځ
د حساب تخمين ئې وکړه، هر حيوان چي پر تېريږي
په لحد کښي ئې غذاب دئ، خو آبرو ئې کوره کيږي
امبارونه د بامو چي د کوڅې وخواته پاشو
د دوږخ اور اغزي دي، د لحد دپاړې تراشو

بازاري ته غريب ناپوهه جوړ کړي په دې لار کې
لابرسيره ښکنځا وايي، اوښ والا ته ياد ئې پلار کې

په عوامو پښتنو کښې ځينې بد بد کلمات سته چې ويل ئې له تهذيبه او اخلاقو ليري دئ، پوچ ويل او ښکنځل دوني ډير دي، چې د عوامو خبري له دغه خالي نه وي، انساني تهذيب تل له دې خبرو څخه تېلن وي، افغان دې بې تهذيبي ته د تنقيد په سترگه گوري، او هسې افسوس کوي.

بوده به تر دې ولد دئ چې بابا وي په ښکنځلې
چې ئې مور سي په بې ستره کاشکي مار واى زېږولى
ظاهر ښکلې د سړي وي پټ دننه بالکل خر
د خره باد ئې تر خوله ووزي فحش ډېر دي تر بتر
خوشائي په ژبه ژولي هيڅ په خوند ئې نه پوهېږي
حروف سته په پښتانه کښې خرس و خوگ ځينې ترهيږي
چې نه گبر نه شداد نه ابوجهل دي ويلي
نه هامان و نه فرعون و نه نمرود کله بللي
د افغان پر کلي شپه کړه قسم قسم الفاظ وايي
دين ايمان پير و مذهب په څه خبيثه وراشه ستايي
شيطانان ورته حيران چې دا تعليم له کومه مومي
زوړ ابليس چې ځيني واروي ووېرېږي زغلي درومي
په ملکو ياست گرزېدلي هر چيري سمه وراشه ده
پښتانه که ژبه غوڅ کړي، د عقبا ئې لو توبه ده
له عربو تر عجمو اشارات ئې در گوهر
ته زموږ صحت ته راسه تر خوله غورځوو سخوندر
له مشرقه تر مغربه د انسان زينت په ژبه
موږ په ژبه دوږخ جوړ کړ هيڅ حيا نه سي له ربه



دوې خبري څلور فحشه مکرر مو دا عادت دئ
بل کمال موږ لره نسته، هم دغه مو سعادت دئ
زوړ پښتون نيکه بابا شهوتي مړ آلات پر ژبه
يو ساعت بې سل ځا جگ کړي نه شرميږي بې ادبه
علت کل د معلم سو، تربيت د ورو نسته
اوبه سوې له پاسه ځړي فهم و هوښ د مړو نسته

اکثر پښتانه پر نوافلو خورا ټينگ وي، او دغه ئې عادت وي چې له مکروهاتو څخه هم ځان ژغوري، مگر فرايض ځينې پاته وي، مکروهات نه خوري، مگر ناروا او حرام مالونه خوري، افغان د پښتنو پر دې عادت سخت تنقيدونه کوي، او کتاب ئې له سره تر پايه، په دغو مضامينو ډک دئ، چې دلته يوه غزل د نمونې په ډول را اخلم :

د پيشو پس خورده نه خورم، زه مکروه کله کومه
د مړه ورور په ورستو غوښو ځان او کلي مړومه
که موږک په څاه کښې ولوېده درې ورځي مې خوا گرزي
په مردارو بدو غوښو هر ساعت خوله لگومه
په ښۍ لا کښې مې عصا ده، چې ثواب مې علاوه سي
په بل لاس کښې مې اره ده، د خپل دين ريښې ربمه
تاسي وگورئ و ماته تر څه حده لېوني يم
حاصل دا چې په خپل ځان او حقيقت ريشخند وهمه
دين مې ټوله طبيعت او اصطلاح و بد عادت سو
تش الفاظ مې دي په خوله کښې، چې د دين دعوا کومه
که خوشوي په مړي، گډ سو د عيال له سرې ولم
په خپر غليظ اخلم خوله او زړه مردارومه

زه به څو ها ها لرمه چي مرغي دانه يوسئ
په لاسو کښي مي اورتک دئ په کله اور لگومه
علت تولپه کم علمي سوه، بې ترتيبه په دين گډ سوم
فرايض مي بېکاره کړه، نوافل پر سترگو ږدمه

د پښتنو په اجتماعي اوضاعو کښي ډېر يو بد عادت او کرغېړن رسم دا دئ، چي د ښځو مهرونه دوني ډېر دي چي د هر چا له لاسه نه کيږي، چي واده وکړي نو له دې جهته ډېر خلمي مجرد او جره گرزي، نکاح نه ورپيدا کيږي، د پښتنو نفوس هم له دغه جهته لږ دی. افغان په دې خوا کښي هم خپل قوم ته رهنمايي کوي، او دې غټ عيب ته دوی ملتفت کوي، چي ولي ښځي نه طلاقوئ، او نه په ژوندانه کښي سازش ورسره کوي، دی وايي : چي طلاق په موږ کښي عيب دئ، اما دا نو عيب نه دئ چي ښځه په کور کښي ناسته وي او مېړه ئي په کلو مخ نه ويني؟ کونډه خو شرعاً خپل اختيار لري، مگر پښتانه پر گونډو سره وژني، او نه ئي پرېږدي :

د سنقر د مور لمسی سوه په پنځه منه روپی
مضاعف خرڅښت ئې نور سو له دولاغو تر کپی
خوار غريب سړي ته گوره دا ئي کله سي له لاسه
په ظلمت به مبتلا وي، چي انگار سو پر له پاسه
دا علاج خورا ضرور دئ، چي د ښځو مهر سپک سي
که غلجي که دوراني وي، د نکاج ثقل دې ورک سي
چي پر کونډو سره وژنو، روگردانه سوه له خدايه
علت کُل لنگر د مهر، دېوال کوږ سو له تهدابه
د الله حکم مو پرېښو په ميراث مو يوورپ ښځي
په اول کښي نکاح درونده، پر آخر مو پرې سوې برخي



هزارها روپی مي خرڅي کونډه نه باسم له کوره
څه قرآن څه ئې عزت دئ، موروثه مي سوه له وروره
شام و روم يمن حجاز و حضر موت نجد و عراق
د نکاح پله ئې سپکه همېشه ئې سي طلاق
په زړو ئي مطلقي وي نه ئې عيب سته نه پېغور
چي وصلت پر شريعت وي هم په شرع سي فراق
څه شبهه لري په دې کي سږ نکاح پر کال طلاق
د افغان پر کلي شپه که مرگ قبول دئ نه طلاق
حبطه په کنج کښي ناسته، نه واته سته نه وفاق
د افغان پر کلي غم دئ نکاح درونده دئ هم جهاز
له دوی پاته سوه نغمه او ترانه کوک کړئ ساز
د نکاح له اشتياقه زړونه زخم سوه خوږيږي
فهم فکر حبطه سوه، له دې ژونده څه جوړيږي؟

---

که زنا کا هلاکيږي
يا ئي لاس نه ور رسيږي
يا ئي ببره سي د قتل
نکاح نه ورپيدا کيږي

❋ ❋ ❋

څه عجبه طريقه سوه؟
کجه لار چپه شېوه سوه
نيمه نسل منقطع سو
زما د شرق و غرب دعوه سوه

❋ ❋ ❋

طالبـــان پـــه حجـــرو کښـــي
ســـوه ســـپين ږيـــري پـــه غـــارو کښـــي
درې څلـــور بـــه ئـــې زامـــن وه
کـــې واى ښځـــي پـــه کـــورو کښـــي

❁ ❁ ❁

د مفلـــس قطعـــه ســـو نســـل
اســـباب نـــه لـــري د وصـــل
تـــول پښتـــون بـــه يـــو پـــه دوه ؤ
کـــې لوســـتلی واى دا فصـــل

❁ ❁ ❁

دا وې د پښتو ادب ځيني تنقيدي نمونې چې له ادبي آثارو څخه غوره سوې، او د پښتنو شاعرانو ادبي شجاعت او تنقيدي روح ښه ځيني څرگنديږي. (۱)

(۱) کابله مجله، ۱۳۲۴ ل ۱۳مه گڼه او ۱۳۲۵ ل کال لومړۍ گڼه.